وهمچنان شمارا امت وسطي ساختيم
تابرمردم گواه باشيد وپيامبر(ص) برشماگواه باشد

شهادت

(۸) صفحه

ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

شاهراه اکمالاتي کابل - حيرتان ازچهل و سه روزبه اينطرف بروي قطارهاي دولتي مسدود است

پروان ۱۰ حوت به حواله راپورهاي قبلي .

گزارش هاي واصله از حوزه شفق ولسوالي جبل السراج حاکيست که: سرک کابل - حيرتان درمنطقه جبل والسراج چاريکار ازمدت چهل وسه روز به اينطرف توسط مجاهدين دلير مامسدود گرديده است .

گزارش علاوه ميکند : درعمليات مشترکي که توسط مجاهدين حوزه شفق حزب اسلامي افغانستان ومجاهدين جمعيت اسلامي بالاي پوسته هاي کلينک حيواني صورت گرفت، سه عراده تانک زرهي دشمن تخريب ودونفر ازمزدوران رژيم به هلاکت رسيد.

گزارش مي افزايد : کنترول سرک جبل السراج چاريکاربدست مجاهدين حوزه شفق است وقطارهاي اکمالاتي دولت ازطريق سرک خامه ايکه جديداً احداث نموده عبور ومروروي نمودند که ازمدت دوهفته قبل آن سرک نيز بروي قطارهاي اکمالاتي دولت مسدود گرديده است.

گزارش حاکيست : قواي رژيم چندين بار غرض بازنمودن سرک هاي مذکور حمله نموده که به اثر مقاومت دليرانه مجاهدين به شکست مواجه گرديد.

گزارش علاوه ميکندکه ازآغاز عمليات تاحال شصت تن ازافراد رژيم هلاک وتعداد زيادي مجروح گرديده اند. عمليات مجاهدين موفقانه جريان دارد . نتايج بعدي وقتاً فوقتاً اطلاع داده خواهد شد.

فرمان الهي

آيانه ديدي که چه کارکرد پروردگارتو باقوم عاد!
(با) ارمي داراي ستونها ، آنچنان که آفريده نشده
مانندش درشهرها.
و(با) ثمود، آنانيکه مي شگافتند صخره رادروادیها .و
(با) فرعون صاحب ميخها.
آنانيکه سرکشي کردند درشهرها .پس تکثيرنمودند دران
فسادرا. آنگه نازل کردبرايشان پروردگارتو تازيانه ي عذاب
را، به يقين پروردگارتودرکمينگاه است.
سوره الفجر- آيات (٦- ١٤)

شماره مسلسل(٤٤٧) سال چهاردهم ،شماره (١٤٣)يکشنبه (١١)حوت ١٣٧٠ هـ.ش- (٢٧)شعبان ١٤١٢ هـ.ق- اول مارچ ١٩٩٢م

ورورحکمتيار دخوږيانو په جامو جومات کي دناصرباغ کيمپ اوسيدونکوته دجمعي دلمانځه له اداکولو نه مخکي :

موږتولوجهادی تنظيمونوته وايو :راځی داسی مشترکه جبهه جوړه کړو چی ټول جهادی ځواکونه پکی راټول شی

- روږه په انسان کي داسي
- کيفيت اومعنوي حال را
- پيداکوي چي دهغه په
نتيجه کي دقرآن په ژبه پوهيداي شي

- زموږاصلي طرح به هم
- داوي چي دکابل رژيم
- به دجهادله لاري راپرځوو

۵ مخ

- **موږدتصفيي اصلي وارثان يو ، طرحه بايد موږوړاندي کړو دادسولي په**
- **نوم کوښښونه ددي موجوده حالت اودنجيب دساتلو لپاره يو سازش دي**

درولايت بغلان موتر حامل معاشات مامورين حکومت ملحد چورشد

بغلان

راپور هاي واصله ازولايت بغلان حاکيست که موتر حامل معاشات مامورين حکومت ملحد کابل ازطرف مليشه هاي شهر بغلان جديد چوروچپاول گرديده است.

ميديا گزارش ميدهد موتر مذکور که معاشات برج دلو مامورين را ازيک گوشه شهر به گوشه ديگري انتقال مي داد در برخورد بين مليشه هاي متخاصم وابسته به خارندوي وخاد گيرمانده پول آن به يغما برده شد . ودرين درگيري يک نفر از قوماندانهاي قطعات مسلح تحت قومانده جنرال نظام الدين ازطرفداران حکومت کابل کشته ودونفر ديگرشديداً مجروح گرديده اند.

په ننګرهارکي دملحدرژيم هوايي قواوو سختي بمباري کړي دي

ننګرهار دسلواغي ۲۸ .مه

دننګرهار ولايت څخه په رارسيدلو رپوټونوکي ويل کيږي چي دروان کال دسلواغي دمياشتي په ۲۸ مه نيټه دکمونيست رژيم هوايي قواوو دغازي آباد فارم ته نژدي شاوخوا سيمي ترسختو بمباريو لاندي ونيولي د ميديا خبري آژانس زياتوي دخداي په فضل مجاهدينوته په دي بمباري کي کوم ځاني تاوان ندي رسيدلي.

دګرديزدلومړي کمربند څخه نولس تنه وسلوال عسکرمجاهدينو ته تسليم شول

پکتيا:

دشهيد اسدالله جهادوال دفرقي مسؤلين ديوه پيغام په ترڅ کي خبراکوي چي ۱۳۷۰ هـ ش کال دکب دمياشتي په اومه نيټه (دپنجشنبي په شپه) دګرديز ښارد لومړي کمربند په اصطلاح امنيتي پوستو څخه نولس تنه وسلوال عسکر دحزب اسلامي قهرمانو مجاهدينو ته تسليم شوي دي.

په خبرکي زياته شوي چي نوموړو عسکرو ۱۵ ميله کلاشينکوفونه ٤ ميله ګرينوف او ۲ RPG7 راکټونه هم مجاهدينو ته راوړي دي.

پاکستان نه غواړي چي صهيونستي رژيم په رسميت وپيژني

دپاکستان دبهرنيو چارو دوزارت وياند وويل چي پاکستان په هيڅ توګه نه غواړي چي صهيونستي رژيم په رسميت وپيژني.

ده تيره ورځ په يوه مرکه کي وويل چي پاکستان به دقدس داشغالګر رژيم سره په رابطه کي په خپل دريځ کي هيڅ بدلون رانه ولي.

ترډي وړاندي په امريکا کي دپاکستان نامزد سفير بيګم عابده حسين ويلي وو چي کيداي شي پاکستان اسرائيل په رسميت وپيژني ،دي کار دپاکستان په حکومت باندي دمخالفينو فشار زيات کړ او غوښتنه يي وکړه چي حکوت بايد دامسئله څرګنده کړي.

دملګروملتونويولوړرتبه مامور دمعمرالقذافي سره وکتل

دملګروملتو يوه لوړ رتبه مامور دليبيا د مشر ډګر وال قذافي سره ليدنه کتنه کړي او له هغه څخه يي غوښتي چي ليبيا هغه دوه تنه چي په ۱۹۸۸ عيسوي کال کي يي ديوي مسافر وړونکي الوتکي په تباه کولوتورن کړي دي ملګروملتونو ته وروسپاري .

دوړيتر دخبري آژانس په حواله ويل شوي چي دملګروملتو استاذي په طرابلس کي تريوه ساعته پوري دډګر وال قذافي سره خبري وکړي او داستاذي له قوله څخه يي وويل چي داليدنه کتنه ګټوره وه.

باتخريب دوپوسته درکابل،۸ نفر مليشه کشته وتعدادي زخمي شدند

کابل :

مجاهدين به تاريخ ١٣٧٠/١١/٢٥ بالاي مراکز رژيم کابل درساحات باريکاب ولسوالي بگرامي عمليات موفقانه نموده دوپوسته راتخريب و ۸ نفرمليشه رابه هلاکت رسانيدند.

خبرگزاري ميديا مي افزايد درين عمليات برعلاوه که تعدادي ازمحافظين پوسته ها زخمي شدند چندين ميل سلاح ثقيله وخفيفه بدست مجاهدين غنيمت گرديد لله الحمد به مجاهدين کدام آسيبي نرسيده است.

شوراي امنيت به عراق التيماتوم داد

نيويارک ۹حوت

شوراي امنيت ملل متحد تاشام جمعه به عراق مهلت داده است تابه مفتشين ملل متحد اجازه دهد وسايل توليد راکت هاي سکد را ويران سازند.

مفتشين از چندين روز به اينطرف درانتظار اند تا بساط دستگاه توليد راکت هاي سکد را بر چينند ولي عراق از

ص (۸)

په نيول شوي کشمير کي ديولړنښتو په ترڅ کي ۲۷ تنه ووژل شول

سرينګر

په نيول شوي کشمير کي دکشميري مبارزينو اوهندي پرځيانو ترمنځ سختي نښتي شوي اولرترلره ۲٤ تنه وژل شوي دي . د نوي ډيلي ديوه خبرله مخي ويل کيږي چي دکشمير دکوکوراپه سيمه کي ديوي نښتي په ترڅ (۳) کسه کشميري مبارزين په شهادت رسيدلي همداراز ۱٤ کسه نور ددغه ايالت په بيلابيلو سيموکي کي وژل شوي پدي نښتو کي (۳) کسه هندي عسکر دنامعلومو کسانو لخوا ويشتل شوي او وژل شوي دي.

ديو بل خبر له مخي ويل کيږي چي دجموا و کشمير دمبارزينو يوي ډلي له پرون سهار څخه داسلام آباد په ښارکي دپاکستان د لومړي وزير د دفتر په مقابل کي دخپل تنظيم دنيول شوو غړو دنيول کيدو له امله دنه خوړو په احتجاجي اعتصاب لاس پوري کړيدي.

ويل کيږي چي په اعتصاب کونکو کي دوي ښځي هم وجود لري چي دجموا وکشمير دآزادي بښونکي جبهي دپوليسو غړو دخوشي کيدو غوښتونکي دي.

دمسکو دپارلمان دوداني مخي ته يوه لويه مظاهره و شوه

دمسکو دخلکو څخه يوي ډلي دمسکو دښار پارلمان دوداني په مقابل کي په مظاهرو لاس پوري کړ مظاهره چيانو دحکومت پرمخالفو اعتراض کونکو باندي د پوليسو حمله وغندله.

مظاهره چيانو د خپلو شعارونو په ورکولو سره چي ويل يي دروسيي حکومت دامريکا نوکرشوي دي اوموږ فاشيزم ته دودي اجازه نه ورکوو. يلتسين بي د پښو مسؤل و باله . همداراز مظاهرچيانو دکب په (۲۷) مه نيټه دعمومي مظاهرو غوښتنه وکړه .

انفجاربم درايستگاه مرکزي خط آهن لندن، بيست وهشت نفرامجروح ساخت

لندن ۹ حوت

دراثرانفجار يک بم درايستگاه مرکزي قطارآهن لندن لااقل بيست وهشت نفر مجروح شده ورفت وآمد قطار آهن درپايتخت متوقف گرديد. اردوي انقلابي آيرلند مظنون به اين انفجار است که درساعات مزدهم صبح رخ داد .

اکثراشخاص در اثر پريدن پارچه هاي شيشه زخمي شدند وچندين نفربخاطر جراحات داخل شفاخانه گرديدند.

بم که دريک تشناب مردانه پنهان شده بود درست موقعي منفجر گرديد که قطار آهن به لندن بريح نزيک ميشد که ايستگاه قطار هاي عادي و زيرزميني است. جان ميجر صدراعظم انگليس اين بم گذاري راعمل ناجوانمردانه خوانده گفت : اين ازنه خاص يک حمله اردوي انقلابي آيرلند ميباشد.

رئيس واحد عمليات ضد تروريستي سازمان پوليس اسکاتلنديان اظهارداشت که پيش ازانفجار هشداري دريافت داشت ولي اين هشدار مشخص نمي ساخت که انفجار درچه ايستگاهي قراربود رخ دهد وبه علاوه وقت کافي براي واکنش موجود نبود.

سفيرروسيه در تهران بارهبران حزب وحدت ملاقات نمود

تهران ۹ حوت

کوردوف سفيرروسيه درتهران روز سه شنبه بارهبران حزب وحدت ملاقات نمود.

محمد ناطقي نطاق اين حزب گفت : اين ملاقات به خواست سفير روس دردفترحزب وحدت درتهران صورت گرفت.

وي افزود که سفير روس ازجانب مسکو ماموريت يافته بود تا باحزب وحدت تماس بگيرد.

ناطقي گفت: جانبين موافقه نمودن اين تماسها ادامه يابد تا سوتفاهمات مرفوع گردد.

سفير شوروي بجانب رهبران حزب وحدت گفته است که يلتسين خواهان

ص (۷)

دناګورناقره باغ دسيمي اوربندمات شو

مسکو

دناګورناقره باغ په سيمه کي دآذربايجان او ارمنستان ترمنځ اوربند مات شوي ، ترمنځکي دايران دبهرنيوچارو دوزير علي اکبر ولايتي په زيار اوربند رامنځته

۸مخ

داتحاداوموقت حکومت لپاره داستاد سياف نوي طرحه

دالبنيان خبري اژانس :

دافغانستان اسلامي اتحاد مشراستاد سياف تن سهاردهيواد دننه دالبنيان دخبري آژانس دمطبوعاتي تيم سره ديوي خانګړي مرکي په ترڅ کي دجهادي تنظيمونو ترمنځ ديوقوي اونوي اتحاد دجوړيدو لپاره وړانديزوکړ که چيري جهاد ي تنظيمونه زموږ سره لاندېني دري شرطونه ومني نوموږ ته يوازې داچي کلي وحدت ته چمتويو بلکي دهغه رياست اومشري ته هم نه يوکانديد .

۱- بايد دي تعهدوشي چي په افغانستان کي به غيراسلامي حل نه منو .

۲- داسلامي حکومت ترجوړيدو وسله وال جهادته ادامه ورکوو .

۳- دمهمو اومتنازع فيها مسايلو دحل لپاره دي يوه مقتدره جهادي شوري جوړه شي اودهغي دپريکړو په وړاندي دي التزام وشي .

دراتلونکي موقت حکومت دجوړيدو لپاره دخپلي طرحي داعلان په ترڅ کي هغه زياته کړه که زموږ ورونړه دموقت

(۸)مخ

قزاقستان غواړي چي خپلي اتومي وسلي وساتي

مسکو

قزاقستان غواړي چي په خپله خاوره کي ځاي په ځاي شوي اتومي وسلي وساتي

دقزاقستان دجمهور رئيس صلاح کاردمسکو پوځي ورځپاڼي په مرکه کي وويل چي ديوه اتومي قدرت په توګه په قزاقستان دنورو خپلواکو هيوادوسره پوښتنه مقام ولري.

بايد ووايو چي پرون دروسيي يوه جنرال داخبره څرګنده کړه چي ټولي اتومي وسلي به دټاکل شوي ميعاد نه دوي مياشتي مخکي دروسيي خوندي ځايونه يوړول شي.

بنام نظاميکه بر انطاره معرباز نهايت ملهم آمد

سر مقاله

تفرقه آخرين حربه دشمن براي ناکامي جهاد

تاريخ گواه است که کفار درطول تاريخ براي وصول به اهداف شومشان ازاستعمال حربه تنگين تعصب عليه مسلمانان مضايقه نوروزيده اند. انبيا (ع) درجريان مبارزات حق وباطل بادسايسي ازهمين نوع روبرو بودند . چنانچه زمانيکه حضرت موسي (ع) کاردعوت مردم سوي حق راعلني نمود وپايه هاي دستگاه طاغوتي فرعون داشت ازهم مي پاشيد، تجزيه وتفرقه حربه اي بود که فرعونيان براي استدام سيادت خود برمردم بکاربستند ، طوريکه قرآن مجيد حکايت مي کند، (ان فرعون علاقي الارض وجعل اهلها شيعا) يقيناً که فرعون درزمين علووتکبر کرد واهل آنرا گروه گروه (تجزيه) نمود. همين تجزيه ونفاق وسيله اي بودکه فرعون براي حفظ آقائي وبزوال خود بدان متوسل شد. درصدراسلام نيز دشمنان اسلام با دامن زدن تعصبات ديني، قبيلوي وقومي مردم راعليه پيروان حق بسيج مي کردند . درزمانه تقريباً هفتاد سال پيش خلافت عثماني که باتوحيد و انسجام بخش اعظم دنياي اسلام امپراتوري نيرومندو بزرگي رابرمبناي عقايد اسلامي تشکيل داده بود ، باکاربرد چنين انگيزه هاي ازهم پاشيد. جهاد افغانستان که درنيمه قرن اخير براي جهان بشريت پديده قابل ملاحظه وعظيمي بحساب ميرود، تمامي دسايس دشمنان ازتجاوز نظامي گرفته تا فعاليت هاي گمراه کن تبشيري و سرازيرکردن بيحساب امکانات مالي وپولي براي تحريف عقايد مجاهدين ومهاجرين افغان کارگر نيفتاد. حالا دست بهمان حربه زنگ زده سابقه مي برند تا ازينطريق وحدت اسلامي وملي مردم مسلمان افغانستان رابرهم زده وباانداختن اقوام ، قبايل وفرق سياسي ومذهبي افغان بجان همديگر بهدف ديرينه شان نايل گردند .

بنين سيوان نماينده خاص سرمنشي ملل متحد درقضيه افغانستان چندي قبل تهديدکرده بودکه اگرگروههاي بنيادگراي مجاهدين باطرح پنج فقره اي ملل متحد مخالفت نمايند وبجاي حل سياسي خواستارسقوط رژيم نجيب ازراه جنگ ومقاومت باشند، درآنصورت احتمال تجزيه افغانستان ميرود. ازين گفته آقاي سيوان چنين استنباط ميگرددکه ملل متحد به نمايندگي ازامريکا وروسيه وساير دشمنان اسلام منافع خودرا درحل سياسي قضيه ديده اند نه درحل نظامي آن .

سيوان عين مطلب را بعد ازختم سفر زنجيره اي خود دراسلام آباد وپشاور وکابل وتهران باردېگر تکرار کردو به مخالفين حل سياسي هشدار داد که عدم توافق به لويه جرگه ولست صدوپنجاه نفري اوکه مرکب ازکمونيست ها سلطنت طلبان ومجاهدين ميباشد، موجب تجزيه افغانستان به اقوام وقبايل مختلف خواهد گرديد.

تأسف دراينست که سيوان به صفت نماينده سازمان ملل متحد درپي تجزيه ملت کوچک افغانستان است ، اوبجاي اينکه طبق رسالت وظيفوي اش ملت هارامتحد نمايد واقوام وقبايل را وحدت ببخشد

ص(۸)

دنجيب دملحد رژيم له سقوط پرته په افغانستان کی سوله نشی راتلای

دمتبادلو جهادي طرحونوښت پرامریکایي حل مرګاني ګوزار

ناګار

تراوسه خودامریکا ترمشرتابه لاندي دجهاد پرضدګوماړل شوو ګردو ګوډاګیانو فکرکاو، چي دمجاهدینو ترمنځ داختلاف خلیج ورځ په ورځ پراخیدونکي، اودخپلمنځي پیوندامکانات بې بېخي وجودنه لري . نوځمدغي غلط فهمي زموږ دښمنان پدي طمعه اوهیله کړل، چي ګوندي کولي شي، دکوم سیاسي حل په نامه به هغه خطره تل لپاره خاموش کړي، چي په اسلامي نړي کي دوېښتابه دخوځښتونو لامل شو . اوهم به هغه ستراتیژیکي نقطه کلابنده وساتي ، چي په مستقبل کي نیمه وچه له منځني آسیا سره نښلوي، اوپرنوروخوبیویي سربېره جغرافیایي موقعیت دیوه ځواکمن اسلامي بلاك دجوړیدولپاره داکسېرحیثیت لري. نړیوال ښکیلاك په همدي هیله دخپلو ګردو دسېسو په بدرګه دسیاسي حل ډرامه پلي کړه ، اوبیدي لارکي بې دخپل ټول رسوخ اوروعب نه کاروواخیست ، خوبیدي نه و خبر، چي داجهاد کرمه داناتیت ربره نده . چي دسولي اوامن دټینګیدوپه نامه تري تنازل وشي، بلکي دادتعهد اوخلافت پیغام دي، اوداهغه فکري اونظرياتي پراوده، چي دکمونیزم له شرمیدلي ماتي وروسته دلوېدیځ له پانګوال جمهوریت نه ستړي اوبې سکونه انسان پسې حلې ځلي کوي، چي داهلې ځلي چیرته شعوري اوچیري بیاناآګاهانه خپله طبیعي تګلاره وهي لوېدیځ ته دمجاهدینو دسیاسي اتحاد نشتوالي چي یوه تشه شکلې بڼه لري ډېرلوي بریښېدلی و، اوداسي فکرېي کاو، چي که هرڅومره مجاهدینو دسري امپراتوري په وړاندي یوځې بري ګټلي دي ددي امکان شته چي دهغوي له سیاسي ناهماهنګي نه په زړه پوري ګټه واخیستل شي، خوداسلامي تحریك شدید مقاومت ورته جوته کړه ،چي اوس څېره له خبري تېره اوډافغانانو دقرباني ویښو ګردي پولي نړولي اوبه اسلامي نړي کي پري دخپل وروستني هدف دګټاټ حساب کیږي . په پاکستان کي داسلام دبیا احیا اوبیداري په سیمینارکي دامریکاد وېن هڅ دپوهنتون دسیاسیاتواستاذ ډاکترممتاز احمد داسلامي ټولنو دتجزیې اوڅېړني اوبه هغوي کي له کفرسره دتصادم په ارتباط څرګنده کړه ،چي کوم ځاي چي جمال ناصر، بورقیبه اوسوکارنو راپیداکیږي ، هلته سیدقطب ،مولانا مودودي اوحکمتیارهم ظهور کوي . داسي شخصیتونه چي دهغوي دراپورته شوو خوځښتونو اغیزي اونفوذ اوس لوېدیځ هم محسوس کیږي . ددغي سترمسلمان مفکر څرګندوني کومه تصادفي خبره نده ، بلکي هغه واقعیت دي،چي دنړي اوبیا دلوېدیځ پرتیاره افق ورته خلیدلي ښکاري . همداډول دلوېدیځ ښکیلاك دنوروپروپاګند ترڅنګ اسلامي تحریك پسي داهم تبلیغیدله چي ګوندي په وچ جنګ ټینګارکوي ، اوهیڅ یوه سیاسي حل ته غاړه نه ږدي ، ترڅوله دي لاري پري دخپلو ځېل شوېو خودجهادپه ژوندي روحیه دسپالو هیوادوالو اوهم دنړیوالو اعتماد ختم کړي . خو داسلامي تحریك مجاهد قیادت پخپل مومنانه فراست وکولي شول، دامریکا ترمشرتابه لاندي په اصطلاح دملګروملتونو دنامقبول اوغیرعادلانه حل په وړاندي یوه داسي جامعطرحه وړاندي کړي، چي یکي دسپاړس لکوشهیدانو دقرباني ترجماني شوي وي ، اوبیدي توګه پري دسپوان دسیاسي حل پروسه په بشپړډول چیلنج شي، چي هغه دګوډاګي رژیم خاتمه ، دعبوري حکومت قیام ، دوزینډي اعلان او بې طرفانه انتخابات دي . پدي ترڅ کي په سیوان دانبوکه هم شوي، چي هغه درېږي دهواري پرڅاي داسي مسایل رامنځ ته کوي، چي قضیه پري نورهم پیچلي کیږي، لکه دافغانستان تجزیه چي هیڅ امکانات بې نه ترسترګوکیږي . همداسي دامریکایي حل پرڅاي دمتبادلي جهادي طرحي ترڅنګ دااتکشاف شوي، چي دموسم دبدلون په صورت کي پرکابل دګټو اوپریکندو عملیاتواټکارهم په نظرکي نیول شوي، چي مقدماتي پیلامه بې دکلابندګابل له شاوخوانه شوي، اوبیدي توګه دسیاسي اوجهادي بهیرهماهنګ کیدل اوتوحید یوه غوره ازمایل شوي جنګي تګلاره ده . چي انشاء الله لازمي اودپام وړګټي به تري ډېري زرلاس ته راشي . که له حقیقت نه سترګي پټي نشي ، نوتراوسه پوري بواځي حزب اسلامي و، چي پرجهادي ډګرسربېره بې په سیاسي میدان کي هم دنړیوال کفر دسازشونو په وړاندي سربښندونکي مقابله کوله ، اوزموږ دجهادي بري ترڅنګ دابوختمي امرڅکه و، چي امریکا اوګردکفر بیادهغوي پخپله اصطلاح زموږ هره قرباني په جنګي جنون تعبیروله ، اودابې زموږ فطري رجحان ګاڼه ، اوتردي پردي لاندي بې زیارګاله ،چي نړیوالوته وښایي،چي افغانان بواځي په جنګ پوهیږي اوبس . نو دیوه ژمن اسلامي خوځښت په توګه دادحزب اسلامي فرض و، چي داسلام تعمیري ارځښتونه اودامن پیغام نړیوالوته ورورسوي ، ترڅودشك او ابهام ورېځي اولړي ورکي شي . نو ددغي رغنده اوانقلابي طرحي پرېښت اوتعقیب دنورو جهادي ځواکونو ورګډېدل یونیك تسلسل اوهغه دچاڅېره یوه ډېره له بلي لګول دي، ترڅوزموږ دښمنان زموږ له ګډسیاسي سنګره هم ووېربیږي ، اوهغه جرائت چي زموږشکلي بیلښت ورکړي، په معنوي توګه ورته دنهیلي اوناامیدي لامل وګرځي، اولکه څنګه موجي جهادپه اسلامي نړي کي دوېښتابه تحریکونه په جوش راوسته ، اونړي ته دآزادي پیغام شو . همداسي موباید مومنانه تدبر اوفراست ددي جوګه شي چي خپل مجاهد ارمبارزملت پري کماحقه له هغه بحرانه روغ رمټ راوباسو چي نړیوال کفر راپاندي تپلي ، اوبه هره بیه تري دفاع کوو . موږ دګرداسلامي امت په وړاندي دامسئولیت لرو، چي باید په یوه اواز دجهادي مورچل غوندي له سیاسي سنګره هم داسلامي حکومت دقیام هنګامه ګرمه کړو، او په رښتیا ني ډول نړیوال ښکیلاك ته جوته کړو، چي موږمتحد اوله دغي وروستني هدف (اسلامي حکومت) پرته په بل څه راضي کیدلي نشو . نوبیدي صورت کي به موږمسلمان هیواد دقرباني اوهم به موږداسلامي امت دراسره ټرلو هیلو بشپړه انځورګري اوترجماني کړي وي .

ازخصوصیت هاي رمضان

استاد شهراني

۱ - ماه فضیلت :

حکیم ، یکي ازاسماي حسناي خداوندااست یعني باحکمت که درهرحکم ویاامرونهي وي حکمت هاواسرار است وحکمت غامضه اوراغیرازخودش دیگري طورکامل نمیداند، درجمله حکمت هاي الهي یکي هم این است که درجمله چند چیز هم جنس ویاهمنوع بعضي آنرابربعض دیگري ترجیح وامتیازمیدهد مثلا دربین انسان ها، پیغمبران راکه ازجنس ونوع خودشان است برگزیده وبشرف نبوت وپیغمبري امتیازوترجیح میدهد ودربین ملائکه نیز تعداد آنهارانسبت بدیگران امتیاز داده ودربین روزهاي هفته ، روزجمعه رافضیلت وبرتري داده مزیت وفضیلتي که درآن است دردیگرروزها وجود ندارد وهم چنان دربین ماهاي قمري که ماهاي دیني وشرعي است "ماه مبارك رمضان رامزیت و فضیلت خاص داده است اساس این فضیلت ، آن است که خداوند قرآن کریم وتمام کتب آسمانیش رادررمضان نازل نموده است ونزول قرآن کریم درین ماه مبارك به نص صریح قرآني ثابت است طوریکه خداوند مي فرماید :

ماه رمضان ماهي است که درآن قرآن کریم فروفرستاده شده که درآن هدایت است بمردم ودلایل روشن ازرهنمایي وامتیازبین حق وباطل ؛

وهم چنان درآیت دیگري مي فرماید : ماقرآن رادر شب قدرنازل کردیم ومعلوم است که شب قدردرماه مبارك رمضان مخصوصاً درشب هاي دهم اخیرآن است وهکذا درسوره دخان مي گوید ماقرآن را درشب مبارك وبابرکت فرستادیم که عبارت است ازشب قدر ، مفهوم ومقصود هردو آیت یکي است که نزول آن درشب بابرکت ویاقدر صورت گرفته مفسرین کرام مي گویند که مقصد ازنزول قرآن در شب قدر ودررمضان این است که" این کتاب مقدس مجموعا ازلوح محفوظ به آسمان دنیاء بجناب محمدرسول الله (ص) نیزدرین ماه مبارك شروع شده است .

ازابوهریره (رض) روایت است که حضرت رسول الله (ص) فرمودند : ازجمله فضیلت این ماه این است که وقتیکه آن داخل شود دروازهاي جنت بازمي شود ودروازه هاي دوزخ بسته مي شود وشیاطین درزنجیرها بندگرده مي شوند .

چون درین ماه اعمال صالح ازقبیل ، روزه ، نماز، توبه ، صدقات ، نیکوئي، صله رحم ، سخاوت و ... زیاد است بنابرآن دروازه هاي جنت بازاست که کسانیکه مسلمان میمیرند بجنت بروند وبسبب کمي وقلت معاصي وارتکاب گناهان دروازه هاي دوزخ بسته مي شود وآن کنایه ازین است که درین ماه مسلمانان کمتربدوزخ میروند وشیاطین درزنجیرهابسته مي شوند که وسواس وفتنه اندازي شان دربین مسلمانان روزه دارکمترشود .

امام احمدبن حنبل ازابوهریره (رض) روایت میکندکه رسول الله (ص) فرمود: براي امت من دررمضان پنج خصلت وامتیاز داده شده که به هیچ یك ازامت هاي سابق داده نشده است :

۱- اینکه بوي دهن روزه دار درنزدخدابهتراست ازبوي مشك ودیگر خوشبوي ها؛ دراحادیث این بوي را خلوف " مي گویندکه آن بوي دهن است که دروقت خالي بودن معده پیدامي شود واین بوي ناخوش آیند است لیکن درنزد خداازبوي هاي خوش وازعطر کرده بهتروخوب تراست .

۲- اینکه فرشتگان براي آنهامغفرت طلب میکنند : فرشتگان مخلوق مکرم خدابوده ودرنزد اوتعالي داراي قدروعزت مي باشند ، براي آنهااجازه داده شده که براي روزه داران درماه رمضان مغفرت بخواهند واین اجازه خود دلیل بلندي مقام روزه داران است، ودعاواستغفار ملائکه ها که ازگناهان معصوم هستند درنزد خدا قبول مي گردد .

۳- اینکه خداوند درین ماه جنت را درهرروز مزین مي سازد وزینت میدهد وبرایش مي گوید که قریب است بندهاي صالح من نزدتوبیایند این وعده وتزیین جنت خودش ترغیب وتشویق مسلمانان است که درماه مبارك رمضان علاوه برروزه به انجام دادن دیگر اعمال صالح هم بپردازند تاکه سعادت دنیاوآخرت را نصیب شوند .

٤- اینکه شیطان هاي متمردوسرکش درآن به غل وزنجیرهابسته مي شوند پس به بندگان صالح اوتعالي رسیده نمیتوانندکه وسواس وفتنه اندازند بهمین خاطراست که بندگان صالح الهي درین ماه به اجراي اعمال صالح ونیك زیادترمي پردازند .

٥ - اینکه درآخرین شب این ماه خداوند به امت محمدي مغفرت میکندواین مغفرت بشرطي است که درآن عبادت واطاعت نموده واحکام شریعت را بوجه شایسته و پسندیده اداء کنند .

۲- ماه روزه :

ازجمله فضایل ومزایاي ماه رمضان یکي هم این است که رکني از ارکان وبناهاي پنجگانه اسلامي درآن فرض گردیده که عبارت از روزه داشتن درآن است وچون اوقات عبادت درنزدخدانیز داراي قدروفضیلت مخصوص است بنابران برگزیدن این ماه براي اجراي یکي ازفرایض وتخصیص دادن آن به این عبادت دلیل عظمت وفضیلت ماه مذکورمي باشد .

حضرت رسول الله (ص) دراحادیث زیادي فضیلت وبرتري روزه را درین ماه مبارك تذکرداده که بعضي آنهارا ذکرمي نمائیم :

ابوهریره (رض) ازرسول الله (ص) روایت نموده که فرمود : کسیکه به اساس عقیده واخلاص قلب وجهت حصول رضاي خداماه رمضان را روزه بگیرد، گناهان گنشته اوازطرف خدا بخشیده مي شود ودرروایت امام احمدابن حنبل وامام نسائي آمده است که گناهان آینده ومتأخروي نیز بخشیده مي شود.

ودرحدیث دیگرصحیح مسلم ازابوهریره (رض) روایت میکندکه حضرت رسول الله (ص) فرمود: هرشخص که عمل نیك انجام میدهد خداوند درمقابل آن از ده تاهفتصد مرتبه ثواب میدهد، خداوند مي گوید غیرازروزه که آن خاص ازبراي من است ومن خودم آنراثواب وپاداش میدهم .

بخاري ومسلم ازابوهریره روایت میکنندکه روزه ، وقایه وستراست براي بنده که بین اووگناه بحیث پرده وحایل واقع مي شود ، پس درصورتیکه یکي ازشماروزه دارباشد نه فحش بگوید ونه دشنام دهد اگرکسي اورا دشنام دهد ویاباوي جنگ ونزاع نماید برایش بگویدکه من روزه دارهستم و...

امام احمدابن حنبل ازحضرت جابر(رض) روایت میکندکه حضرت رسول الله (ص) مي فرمایدکه روزه وقایه است که بنده توسط آن خودرا ازآتش نگهمیدارد وچون روزه نمي گذارد که روزه دار مرتکب معصیت شود بنابران آن سبب حفاظت شخص ازآتش دوزخ مي گردد .

ازفضایل دیگر روزه این است که درروزقیامت صاحبش راشفاعت میکند چنانچه عبدالله ابن عمر(رض) روایت میکند که حضرت رسول الله (ص) فرمودند که : قرآن وروزه درروزقیامت براي بنده شفاعت میکنند ، روزه مي گوید: اي پروردگارم من اورا ازخوراك وشهوت اش بازداشته بودم پس شفاعت مرادرحق وي قبول کن وقرآن مي گوید: اي پروردگار من اورادرشب از خواب منع مي کردم یعني اوتلاوت مي کردونماز مي خواند، پس مراجازه بده وشفاعت مرادرحق اوقبول کن . (ادامه دارد)

دتوجه وړ: دتجزیې غبرګ دڅه لپاره؟

قریب الرحمن سعید

دوهمه برخه

غواړي خپل تجارتي شاه رګ بې عبارت دطورخم جلال آباد څخه دي اوډځوکالوراهیسي دمجاهدینو په لاس کي دي خلاص کړي . دي ځرځ شوو قبایلي مسلمانانو دوېري مودي راهیسي کله دلیکرو دغونډولو کله د لانګ مارچ کولو - کله دمجاهدینو دلارو دبندولو تهدید وته شروع کړې اوس بې ټول زور په دي راوړي چي دپاکستان دمسلمان ولس توجه ، چي دافغانستان په دي اوږده انقلاب کي بې دخپلوافغانانو ورونو سره پوره مشکلات تیرکړي، دافغانستان دقضیې د عادلانه حل په ځاي خپل تجارتي ګټواو دمرکزي اسیاد نوو آزادوشوو اسلامي ریاستونو په لور را اړوي ، دنجیب له پاره همدا راز دهغي دمسلمانیدو په هکله پوره تبلیغات کوي . دپاکستان ځیني حکومتي حلقې هم په دي تبلیغاتو کي ددي ملکانو سره یو ځاي دي اما تردي چي دپاکستان دتجارت وزیر سردار اصف علي په ډاګه وویل چي دمرکزي اسیا دهیوادونه په افغانستان کي دیوېښت پاله حکومت په نسبت دنجیب حکومت ته ترجیح ورکوي په دي اساس موږ دهغوي رایه له نظره نه شو غورځولي. همدا خبره دملګروملتو استاذي بنین سیوان په ځرګندو ټکو وکړه او وېي ویل چي هغوي دانجنیر حکمتیار پر ځاي نجیب ته ترجیح ورکوي. اوهغوي په افغانستان کي دیښت پاله حکومت دجوړیدت څخه ویره لري.

امریکائیان چي دپخواني له منځه تللي شوروي اتحاد دبې وخته ټوټه کیدو څخه سخت په تشویش کي دي په بیا بیابې ددي اندیښني اظهارکړې چي دمرکزي اسیا داسلامي هیوادونو ازادي ته بواځي دغرب دګټو له پاره بلکه دامریکا دولس له پاره هم خطردي. امریکا ښیان د ګوربه چوف او یالتسین څخه په دي هکله سخت خواشیني دي چي ولې بې دومره بې وخته دي اسلامي ریاستونو ته آزادي ورکړه . څکه امریکا ښانو په دي وختونو کي بواځي دبالتیك ددري ریاستونو هریو لیتویا ، لیتوانیا اواستونیا دآزادي له پاره دروسیې پخواني جمهور رئیس ګورباچوف ته ګرین سیګنل ورکړي و هغوي هیڅکله داتوقع اوامیدنه درلود چي داسي وخت به هم په روسي امپراطوري راځي چي دااسلامي هیوادونه به هم تري آزادي اخلي. خو کله چي دي اسلامي هیوادونو خپله آزادي اعلان کړه نودامریکادبهرنیوچارو سکرتر جمزبیکر په منډه ځان روسیي اوقزاقستان ته ورساوه اوکوښش بې وکړ چي دقزاقو مشران په دي راضي کړي تر څوخپل ټول اتمي وسایل دروسانو په اختیارکي ورکړي . اودا په دي خاطر چي روسان دامریکائیانو له پاره ډېر داعتماد اوباور وړدي له بلي خواهغوي په مسلمانانو ولوکه هغه په نوم مسلمانان هم وي هیڅ باورنلري پخپله غربي واکمنو څوځو ځله اعلان وکړ او وویل چي هغه اتمي وسایل چي دمسلمانانو په لاس کي دي هغه ځوندي نه دي اوهروخت کیداي شي دغلطو لاسونو په واسطه دهغوي په خلاف استعمال شي . سربیره پردي امریکائیانو ددي هیوادونو دپه رسمیت پیژندلو کي پوره څنډ نه کاروآخست.

جیمز بیکر په خپل اخري سفرکي چي دمرکزي اسیا اسلامي هیوادونو ته بې درلوده هغوي ته په ډاګه وویل چي په افغانستان کي دامریکا بې پلانونو د پلي کولوپه خاطر دملګروملتونو دپنځه فقره اي پلان ملاتړ اعلان کړي .

په داسي حال کي چي دمرکزي اسیا اسلامي هیوادونه چي همدا اوس اوس د روسیي کمونیزم د ٧٤ کلن استعمار څخه آزاد شوي داسلام سره ډېره فاصله لري او هلته هم دنجیب په څیر پردي عناصر دېل په زورناست دي. ملتونه بې اوس غواړي دخپل پخواني دین یعني اسلام دبیا احیاء په خاطر لاس وېسي ووهي خوپخوا تردي چي هغوي داسلام په خوند وپوهیږي نوغربي امپریالیزم بې دافغانستان دمجاهد ملت اوددي ملت دمجاهد قیادت سره ،چي د اسلام په حکم بې هغه دیوځېډ په شانه تلونکي لقب بې ګټلي وو.

راځملاوه ،په دسمني اخته کړي ددي ترڅنګ دایران اسلامي جمهوریت واکداران چي ولس بې داسلام په نوم په کي په لسونو کسانوداسلامي نظام دپلي کولوپه خاطر خانونه څارکړل اوس دخپلو اهدافو څخه اخوا دژبني تعصب راپارولو له پاره په چټکي سره کار کوي . کله چي هم دمجاهدینو ترمنځ داتحاد او یووالي خبره کیږي نوهغوي په کې شیعه اوسني په نوم دتعصب اور خوروي او کله هم دپښتون - تاجك ،اوازبك په نوم اواوس خوداسي بریښي. چي دحکمتیار په خلاف په تبلیغاتو کي اودنجیب د پایښت له پاره ایرانیان دپخوانه ډېرګرم وي ، اوبیا خاصتاً دمرکزي آسیا آزاد اسلامي هیوادونه ګټي هم وېني هم پاکستان او هم ایران دخپلو تجارتي مارکیټونو دپیداکولوپه خاطر ددي هیوادونو دمشرانو سره غواړي داسي وضعه وکړي چي له بوي خواېي دتجارت له پاره لاره خلاصه شي اوله بله پلوه هغوي ته تضمین ورکړي چي په افغانستان کي به دهغوي دخوښي په مطابق دداسي بوحل تلاش کوي چي نه خوښي دوي ته څه خطر متوجه وي اونه دهغوي تجارت ته . څکه ایران پخپله په افغانستان کي دیوه ستي اسلامي قوي حکومت ځخه چي دنړي دمسلمانانو اوآزادي بښوونکو تنظیمونو قوي اومستحکم سنګروي، ویره لري. په دي اساس غواړي ژبني تعصب په هرصورت راپیداکړي .

ددښمن نه باید په دي هکله ګیله ونه شي . څکه دښمن دښمن دي او هغه په خپل ټول توان اوقدرت په کار اچوي چي دعصبیتونو په راپارولواسلامي تنظیمونه کمزوري او په افغانستان کي داسلامي حکومت دجوړیښت نه مختوي وکړي

په داسي حال کي چي اوس د ګردي نړي تجزیه شوي هیوادونه سره رایو ځا ي کیږي دبرلین دیوال غورزي اودوه المانونه وروسته دپنځوسوکالوجدائي اوبیلتون څخه را یوځاي کیږي، دواړه یمنونه ، دواړه ویتنامونه اودواړه کوریاګاني سره یاځوځاي شوي اویا دیوځاي کیدو په پروسه کي دي . ولي دیوه متحد افغانستان دتجزیې له پاره په دومره فعاله توګه تبلیغات کیږي .باید دټولومجاهدینو دتوجه وړ وي چي استعمار دتجزیې غرددي له پاره پورته کړي چي که چیري دهغوي دپلانونو اودنړي وال نوي حکم په مطابق ونه چلیږي اودخپلي آزادي له پاره اودخپلي خوښي دنظام اوحکومت راوستلو له پاره کاروکړي نوبیا په ستاسي دکمزوري کولو په خاطر ستاسي دهیواد دتجزیې له پاره کار په پوره چټکتیا سره کیږي او دادنده به هم امریکا ښیان دملګروملتو دنماینده بینن سیوان په واسطه سرته رسوي په دي اساس بینن سیوان باید دمجاهدینو دمشرانو لخوا احتجاجاً مسترد شي اوترڅو بې چي زموږ دهیواد په هکله خپلي دتوهین نه دکي تبصري بیرته نه دي اخستي دجهاد مشران یو هم ورسره لیدنه ونه کړي.

*****

زموږ دوسله وال جهادڅېړنه اواغیزي يې :

فضل هادي

دڅرګندحقیقت له مخي ویلي شو چي جهاد هغه مستقیمه لاره ده چي لاروي بې تل په خپل موقف بریالي اوډېرژر خپل هدف ته رسیداي شي. اوهمدغه جهاددي چي دمؤمن اومنافق اصلي هویت معلوموي . څکه جهادبوه ولوله انګیزه کلمه ده اومجاهد دتکبیرونو په ګرمو حماسو کي نغاړي . کله چي سړي مؤمن وي نوبه اوریدوبې ایمان لاپسي پیاوړي کیږي خوبرعکس که څوك کامل مؤمن نه وي بایه بل عبارت داسلامي دین ددي لوبي اوپراخي دائري په محورکي بشپړداخل نه وي، داسلامي احکامو کامل پابندنه وي اوته په پوره توګه دالهي امرونو لحاظ کوي. ددي زړه کښونکي اوکفر لړزونکي کلمي په اوریدو سره بې په زړه کي خوف او ترس ایجادیږي اوداضعیف الایمان شخص نشي توانیداي ترڅونفسي غوښتنوته کوم بې چي ددي لاري خنډاومانع دي منفي ځواب ووايي بلکه مثبت ځواب ورکوي اوځان ورسره ملګري کوي . هوا که چیري قرآن اونبوي لارښوونو ته مراجعه وکړي امکان لري چي دده ټول اشتباهات اوشکوك دحقایقو په درك سره حل وفصل شي . که څه هم دجهاد تعریف اوددي اصلي ماهیت تشخیصول خورامشکل بریښي . څکه چي دابوه قرآني کلمه ده اودبشردذهني اومدرکي قوي څخه خارج ده . خوموږبې هماغه تعریف ته ورګرځوکوم بې چي منقول دي .

باید ووایوچي دهري کلمي لپاره دوه معناوي وي. لکه څرنګه چي دهنداري دوه مخه وي اودهرلوري سړي کولاي شي چي خپله څېره په خپل اصلي شکل کي وګوري. نو همداډول هره کلمه ددوو معانیو دلرلو جوګه ده . چې یوې ماناته بې لغوي کومه چي ادیبانواوفني شخصیتونو اېښې اووضع کړېده . اوبلي ته بې اصطلاحي ماناویل کیږي کومه چي دعامو وګړو دعرف اوکلتورپه اساس متمرکزه ده . دلږي ماناپه اساس جهادجدوجهد اوکوښښ ته ویل کیږي اوددوهمي وضعي په (اصلاحي معني) په بنا ، ویلي شوچي جهادعبارت دي دهغه قتال څخه کوم چي دخپل بدن اوياماال په وسیله مبتني اوبوازي دالهي دخوښي هدف ته رسیدل وي دیادولو وړده چي جهاددجنګ څخه توپیرلري . پدي ماناچي جنګ هم عبارت دي دقتال څخه خرچي دمادي ثروت اوشخصي اهدافو پرښسټ وي . مګر جهاد ددي په عکس سره دي څکه په جهاد کي په ځانګړي هدف دخداي (ج) خوښي وي اویس . نو باید دجهاد اطلاق په جنګ اودجنګ په جهاد ونه کړاي شي .

که څه هم جهادخوډلري تقسیم په اساس په دوو برخو ویشل کیږي چي یوه قسم ته بې فرض عین اوبل ته بې فرض کفايي ویل کیږي . خو که چیري فکروکړونو په دوهم اوثانوي ډول همدادوه قسمه بیابې شمېرواومتعددواقساموته ویش کیږي .

خوبه تتبع اواستقراء سره موبوځومشهوري ځانګي تري راخیستي چي په لاندي ډول دي : فرهنګي جهاد، مالي جهاد، بدني جهاد اوداسي نور ...

پته دي پاتې نشي چي معاصرجهادلکه دنظامي ځانګي فرهنګي ځانګي ته هم بې ساري اړتیا لري. څکه فرهنګ یوه داسي لاره ده چي ویده خلك دخوبه ویښوي . فرضا څیني هغه وګړي چي دنړي په نواحیوکي مېشته دي هغوي درادیوګانوله لاري کوم چي داسلام پروګرام پرمخ بیایي دمسلمانانو دټولنیز اواجتماعي ژوند وژواك څخه پوره خبریږي او همدا اسلامي تبلیغ دي چي دمسلمان ایماني احساسات په جوش راولي. اوبل له دي امله چي داسلام دښمنان دهمدي لاري نه په استفادي سره دمسلمانانو په ضدتبلیغات کوي نوباید متقابل خلك (مسلمانان) هم ددوي دپلمو دشنډولو لپاره همداسي جوابي تبلیغاتي ځانګي اودستګاوي ولري څکه اسلامي امت باید په تبلیغوي کاروونوکي دټولو څخه په لومړي راس کي واقع وي . همداډول اسلامي مطبوعات هم داسلامي انقلاب په بهیرکي مخکښ رول اونقش لوبولي شي . څکه ددي مطبوعاتو په توسط سره دیاسواده مجاهدینو ذهنیت اوروحیه لاپسي تقویه کیږي اوهمدامطبوعات دلیکوال اوادیب دانقلابي مفکورو څرګندوني کوي اودمسلمان شاعردحماسو اوعمیقو تخیلاتوچي یوځل بیا یکي داسلامي احساساتو دپاروني اودانقلابي افکارو درغاونې لمړني معمار (حسان بن ثابت ، رض،) تلپاتې یادښت راتجدیدیږي اظهارات کوي اوددي زورداسلامي تأثرات راژوندي کوي چي زموږ دروان جهادپه جریان کي ددي اغیزي واضحي اوڅرګندوجاهم پټي ندي .

همدارازمالي اوبدني جهاد چي داسلام دابتداء څخه تراوسه پوري پرمخ تلونکي انځورلري اودهمدغي بدن اومال په ذریعه باندي اسلام داول قرن څخه راواخله تر نن وخت پوري پرمخ تللي . اوهیڅوك بې هم په مخکي نشي تم کیداي . خوبه لنډو الفاظو به ووایوچي دجهاد ارزیابي داقسامو اوبادبهرنیو اغیزوله لحاظه مشکل کاردي اودقلم ژبه بې دپوره تفصیل توان نه لري لکه چي موبه ګوته کړه چي جهاد داسلام له نظره لوړاهمیت لري اوبه قرآن کي ځوکرته دامربه صیغه یادشوي ، لکه په یوه آیت کي فرمایي چي (اودخداي (ج) په لارکي جهادوکړي خوحق جهاد) اوداسي نور ... دوبرواحادیثو څخي هم ددي دفرضیت ثبوت شوي خوزه یوهغه حدیث راوړم چي یکي دجهاددوام اواستمرار ثابت شوي چي فرمایي وقیامت دورځي پوري به جهاد جریان لري اوخاتمه به ونه مومي .

نویدي تعقیب به ووایوچي جهادیوه برمباله لاره ده اوخپل تلونکي هدف ته رسوي لنډ مثال بې افغانستان ورکووچي دسره یوځ دیرغل ته وروسته زموږ عقیدوي مبارزي او وسلوال جهاد کرملین ماټي دړي، دړي کړه . اوبه نړیواله ساحه کي روسانو ته وخیم اوله عبرت نه دوکو عواقبو سره بې مخ کړل . چي په پاي کي په لسګونو جمهوریتونو وویشل شول . او دسپرطاقت لقب بې دصفر په طاقچه تبدیل شو اوروسیي به انشاء الله ددوي بریخي رژیم چي دکمونستي ایډیال اومفکوري متحمل اوڅرګند مثال دي به رانسکوراودخاوروسره به برابرشي اوبه ټول افغانستان کي به داسلام سپیڅلي قانون حاکم اوبلي شي .

بررسی هایی درزمینهٔ رشد شخصیت جوانان ونقش تعلیم اسلامی

درآن باره

پروفیسورفرملي

ازنگاه مطالعات جامعه شناسي ،نسل جوان که قشر میانه هرجامعه راتشکیل میدهد ، درهرزماني پرمایه ترین عنصراجتماعي شناخته شده است . بدیهي است که جوانان با متانت خاص وثبات عقیده وباداشتن نیروي فکري تحول پذیرو توانمندي جسمي درحیات اجتماعي گام مي نهند ودر جهت تامین حیات مرفه براي مردم خود نقشهاي پرارجي بجا میگذارند.

مسلماً زندگي بامسئولیت جوان اصلا بارسیدن ایام شباب آغاز میشود چه زندگي در محیط اجتماعي مستلزم پذیرش مکلفیتهاي است که خواهي نخواهي جوان دربرگرداندن چرخهاي گوناگون حیات مردم خودعهده دارمیشود وناگزیراست براي اجتماعش کارکند وبحیث عنصر مفید جامعه یي که بدان منسوب است نقشهاي سازنده یي اداکند تا جامعه اورا بمنزله یک فرد فعال وشایسته بشناسد . بنابران کسب شخصیت اجتماعي منوط به اجراي کار هاي سازنده ایست که فرد در روند تعلیمات دیني وزندگي اجتماعي ،سیاسي ، اقتصادي وفرهنگي عهده دارمیشود.

بدین حال صاحب شخصیت شدن ایجاب میدارد که جوانان واجد صفات حمیده وخوهاي پسندیده یي بوده ، قابلیت سازگاري را در اجتماع احراز کنند وبه آساني خود راباجامعه تطبیق دهند درغیرآن نمیتوانند موردپسند جامعه باشند.لهذا به عناوین مختلف : بیکاره ،فاقد شعور اجتماعي ،باردوش ، طفیلي وغیره از ایشان یادمینمایند واز احترام جامعه برخوردار نمي گردند . به گونه ایکه هرکس حتي اقاربش میخواهد از او دوري ، گزیند . بنابران او هم به عکس العملهاي متوسل میشود که یکسره به دساتیر نظم اجتماعي مغایرت میداشته باشد . بطورمثال : این طورجوان انزواگیري را پیشه میکند ویه طفیلي گري روزگارش رامیگذارند ویا بعضاً به طغیان ها وعصیان ها روي میاوردومرتکب جرایم وجنایات میشود ، وحتي زماني نسبت فشارهاي رواني ناشي از شکست ها درزندگي اجتماعي ، دست به خودکشي میزند.

بناسي ازگفته بالا " رانکه روانشناسي معروف بدین باوراست که موجبات حمله هاي عصبي فرد همانا ناشي از اندیشه ایست که اونمتواند شخصیتش را باثبات برساند.
واظهاروجود کند وعکس آن جوانیکه بارتکفل فامیل را ازطریق ایفاي نقشهاي اجتماعي و انجام کار هاي به نفع مردم بعهده میگیرد ،احساس غرورمیکند ویاوخوشحالي وسروروي میاورد . زیرا او احساس میکند توانسته است بامردم درست بیامیزد وبحیث عضو فعال جامعه اثبات شخصیت کند.

شخصیت چیست ؟

درباره مفهوم شخصیت وتعبیر آن داشمندان جامعه شناس وروانشناس نظریات گوناگوني دارند.

گرچه ازلحاظ اداي کلمات وعبارات آمیخته بافرقهاي است واماازنگاه، مفاهیم وتعابیر وهمه غالباً راه همگوني را پیموده اند ، بنابران شخصیت به تعبیر ي عبارت ازتکامل کلیه توانایي هاي مادي و استعداد رواني وخوهاي اجتماعي فرد است که بدان وسیله او قادرمي گردد تا نا آگاهانه بامحیط زندگي سازگاري نماید. عده اي ازدانشمندان معیار شخصیت را منوط به تکامل وانکشاف سه غریزه طبیعي انسان :
۱- احساس ۲- پندار. ۳- کردار وانمود مینمایند ، چنانکه شخصیت ازنظر دانشمندروانشناس (الپورت) عبارت ،از مظهر عادات خلق ورفتارآدمي بوده که چگونگي تطابق وسازگاري اورا بامحیطش معین میکند . بدینصورت مجموعه رفتار ، کردار وخوهاي پسندیده انساني که اورا به سازش موثرانه به محیط زندگي اش قادر میسازد شخصیت اوست.

افکار اسلامي درزمینه هاي تبارز شخصیت :

شخصیت از نظر اسلام با اشکال متنوعي افاده شده وسازگاري بامحیط بعبارات مختلفي توضیح گردیده است: ازسجاد روایت است که حضرت پیغمبر اکرم (صلي الله علیهم وسلم) درخطبه اخیر خودفرمود:

خیروسعادت آن راست که اخلاقش پسندیده رفتارش منزه باشد ، صاحب باطن نیکوو ظاهرا آراسته به خوبي باشد ،مازاد اموال خودراانفاق کند درسخن گفتن زیاده روي ننماید وبیش آمدش باکلیه مردم مزین به عدل وانصاف باشد.

بنابرآن اسلام یکي ازاوصاف عمده شخصیت را پیش آمد نیکوو رفتارصالحه وتعاون به مردم وانمود میکند . واین امر بستگي بان دارد که فرد صاحب طینت پاك وظاهر آراسته به نیکوکاري وخیر اندیشي باشد . همانطور اسلام انعطاف پذیري وبرخوردسازنده را دربرابر حوادث از اجزاي برجسته شخصیت میداند وعکس آن لجاجت و سخت گیري فرد را در برابرپیش آمد هاي ناگوار اجتماعي تائید نمي نماید چي اینکار انسان را از پادرمي اندازد وسرانجام اودرورطه هولناك بدبختي ها فرومیرود . چنانکه پیغمبر اکرم درزمینه قولي دارد : مردباایمان در برابر طوفان حوادث بمنزله خوشه رسیده ایست . آنگاهیکه بادمي وزد سرش را به سوي زمین خم میکند ووقتي باد مي ایستد دوباره سرش را برمي افرازد .

بناسي ازین حدیث متبرکه انعطاف پذیري ویا مردم بانرمش رفتار نمودن ویا حوادث اجتماعي بامهارت مقابله نمودن ، نمونه بهتري از ابراز شخصیت است که انسان رادرمحیط زیست قابلیت انطباق میبخشد وبدینصورت او را ازشرحوادث مصون میدارد.

بدینصورت اسلام پیروان خودرا به پیشه گیري اخلاق حمیده و سجایاي عالي انساني دعوت مینماید . همانطور اسلام به حسن سلوك وسخن گفتن به کشاده رویي بادیگران ارشاد مي فرماید واز رفتار خشن که اسباب آزردگي وافسردگي دیگران را بیارمیاورد ،نهي مینماید . به گونه ایکه آنحضرت (ص) زماني فرزندان عبدالمطلب (جدش)رامخاطب نمود که شماهیچگاهي نمیتوانید باثروت وسرمایه محیط آگنده ازمهرومحبت رابوجود آورید که در برگیرنده کلیه مردم باشد ودلهاي آنان را تسخیرکنید بلکه میتوانید از طریق پیش آمد نیکووبرخوردباچهره کشاده محبت شانرابخود جلب نمائید .

نقش محیط تربیتي در شخصیت :

بدیهي است که بتربیت وارشاد درجهت تکوین شخصیت جوان عامل قابل توجهي بشمار میاید .فامیل ،اجتماع وموسسات تربیتي همه بالنوبه دررشد وتکامل شخصیت وانفعالات جسمي ورواني فرد سهیم اند بعبارت دیگر موسسات تربیتي در رشد پایه هاي سازش اجتماعي فرد عهده دار نقشهاي است .چه صفات اصلي شخصیت دومنبع اساسي وعلیحده دارد : یکي وراثت ودیگري تربیت که گاهي به عنوان وراثت طبیعي ومحیط تربیتي نیز اطلاق میشوند . درباره اثرات وراثت وتربیت ونقش هرکدام درساختار شخصیت، مؤلف کتاب رشد شخصیت گفته یي دارد : نمیتوان گفت توراث یا محیط کدام یکه درایجاد شخصیت موثر است بلکه درشناختن اشخاص این هردو عامل را باید مورد مطالعه قرارداد واهمیت تاثیرهریك رامعلوم کرد: مسلم اینست که توارث درقواي جسماني وبلند ي وکوتاهي قد ودرقواي دماغي ازحیث تندي وکندي هوش وعمل ، تاثیرسزایي دارد ،لیکن علت تند خویي ،کم رویي وبیحیایي ،شوق بمعاشرت و گریز ازآمیزش ،اعتماد به نفس یاعجز وزبوني همه را باید درآثارمحیط جستجو کرد.

انسان طبیعتاً باداشتن اوصاف عالیه بدنیا مي آیند مانند عقل ، هوش ، حافظه زوق ، قریحه ، قابلیت سخن گفتن وقابلیت انجام دادن کاري (که ملکات معنوي بشمار میایند) ولي تناسب اندام وزیبایي صورت را از پدران ومادران بارث میاورند.

مسلماً این صفات وملکات عالیه باثر تربیت وبرخوردهاي اجتماعي وسازگاري بامحیط رشد میابد وانسان را بحیث موجود صاحب شخصیت درمحیط زیستش معرفي مینماید.

بنابران محیط طبیعي وهم محیط تربیتي دراکمال شخصیت فرد مستقیماً موثر است. آب وهوا ، سرما وگرمي ،محیط خانواده ، محیط اجتماعي ،مدرسه وموسسات تربیتي ،تعالیم دیني در ساختار شخصیت او سهم ارزنده دارد . همانطور خانواده ، محیط اجتماعي در تکوین خلق هاي ناپسندیده جوانان بي تاثیرنیست . هرگاه طفل به دامان خانواده بي مهر وسختگیر پرورش میابد اطفال اغلباً (درون گرا) خودنگري بارمیاید واز جهان واقعي دوري مي گزیند وبه جهان رویا ها وخیالبافي ها روي مي آورد . ودرانجا آنچه رادرزندگي عادي وروزمره خانواده نتوانسته دستیاب نماید، جستجومیکند.

بناسي ازانچه گفته آمد ، پدرومادر بایستي با اطفال بالطف ومهر ومحبت پیش آمد کند وبه اطفال خودفرصت بدهد تادر حیات فامیل نقشهاي را بعهده گیرد و درموارد مهمي اظهار نظر کند تا او مرد واقع بیني و (بیرون گرا) بیارآید چه

ص (۷)

دشمني استعمار بااراده ملت ها

م - ع "حلیف"

استعماروستثمار کردن خاصیت نظام سرمایه داریست . نظام سرمایداري ازهمین طرق تغذیه مي کند وبقایش را تأمین مینماید .

براي نظام سرمایه داري اصولیت ها ، پرنسیپ ها ومعیارهاي اخلاقي وانساني وحتي همان اصولیت هایي راکه خود تبلیغ وپخش ونشرمینمایند ، تازماني حایزاهمیت وارزش است که برآورنده اهداف ومنافع این نظام وگردانندگان آن باشد .

یکي ازاصولیکه جوامع سرمایه داري غرب سنگ دفاع آرا برسینه مي کوبند، دیموکراسیست که برمبناي آن دریك جامعه هرفردحق راي ونظردرجهت تعیین سرنوشت جامعه خویش را داراست . درین باره درجوامع غربي آنقدر نوشته وگفته وپخش ونمایش داده شده است که فکرمیکنم درهیچ مورد دیگري به این حد کارنشده خواهدبود، ولي سوال این جاست که آیا نظام سرمایه داري واقعا به این اصولیکه تبلیغ مي کند ، معقداست ویا اینکه روپوش حیله گرانهٔ بیش نیست که مي خواهد ازآن براي بدست آوردن منافع خوداستفاده مي نمایند .

انتخابات آزاد، حق راي ونظر، نظام اکثریت وغیره وغیره مفاهیمي اندکه ازطرف بلند گرهاي نظام سرمایه داري بانهایت طمطراق عنوان مي شود ولي وقتیکه همین مفاهیم بامنافع اربابان زوردرتصادم واقع میگردد، درآنصورت مدعیان وعنوان کنندگان ومبلغان این مفاهیم خوددرجهت زیرپانمودن آن دست بکارمي شوند وچنان وقیحانه وبي شرمانه عمل مي کنندکه هربیننده باوضاحت کامل چهرهٔ شوم ونفرت انگیز حامیان وگردانندگان آنرادیده مي تواند .

درنظام هاي سرمایه داري آزادي راي ونظر، حق انتخاب وکاندید، آزادي قلم وبیان به روي کاغذ وجود دارد و تاجایي هم که به ضررزرداران تمام نه شود، جامه عمل مي پوشد، ولي درواقعیت امراین پولست که راي میدهد وراي مي آورد، این پول است که انتخاب مي کند وتائید مي نماید، این پول است که برکرسي مي نشاند وازمقام وصلاحیت به پائین مي کشاند ، واین پول است که تعیین کننده ارزشها ومعیارهاست . بنابرآن با قاطعیت میتوان گفت که درنظام هاي سرمایه داري همه چیز درخدمت واستخدام اربابان زراست .

نمونهٔ روشن آن تلاشهاي شیطاني غرب درالجزایر است . برهمه معلوم است که درالجزایر بعد ازآزادي این کشور ازسلطه استعمارفرانسه که ازسال ۱۸۳۰ آغاز گردیده بودوبعداز مبارزات دامنه دار، قرباني هاي بي شمار مردم الجزایر درسال ۱۹٦۲ به استقلال وآزادي خویش نایل گردیدند.

بعدازآنکه درسال ۱۹٤۰ هواري بومیدین بن بلا راکه اولین رئیس جمهوراین کشور بود از قدرت بزیرانداخت وخودزمام اموركشور را تاآخرین روزهاي زندگي دردست گرفت ، این کشور درزیر سلطه نظام سوسیالستي واقع گردیده وتاکودتاي نظامي ایکه به اشاره غرب صورت گرفت ادامه داشت .

بعداز هواري بومیدین زمانیکه شاذلي بن جدید به قدرت رسید تاچندي قبل رهبري این کشوررابه عهده داشت .

درماه دسامبر سال ۱۹۹۱ بنابروعده هاوقرارهاي قبلي حکام الجزایر، انتخابات آزاد براه افتاده مسلمانان الجزایرطي این انتخابات ازمجموع ٤۳۰ کرسي ۱۸۷ کرسي راتصاحب کردند ولي اکثریت قاطع رانتوانستندکمایي کنند . بنابران قراربرآن شدتادرهفته اول ماه جنوري ۱۹۹۲ یك انتخابات دیگري صورت گیرد تانتیجه انتخابات بصورت قطعي ودقیق تثبیت گردد. ولي متاسفانه دیدیم که مداخله دستگاههاي ا غربي که انتخابات آزادرا همواره شعار میدهند، باعث گردیدتاروي یك طرح وبرنامه خائنانه ، نظامیان قدرت رادردست گیرند وازانتخابات ماه جنوري جلوگیري نمایند زیرا منابع جاسوسي غرب وهم چنان حزب حاکم (جبهه آزاد بیخش) متیقن گردیده بودند که طي این انتخابات مسلمانان اکثریت رابدست آورده وزمام امور را دردست خواهندگرفت ، چیزي که غربیها اصلا خواهان آن نیستند .

قابل تذکراست که نظام حاکم برالجزایر به ریاست شاذلي بن جدید نظریه خصومتیکه بامسلمانان داشت وداره دوتن ازرهبران جبهه نجات اسلامي الجزایررا یکي پي دیگربه زندان کشید .

مسلمانان جبهه نجات اسلامي الجزایر بعدازدستگیري دورهبرفوق الذکر برادر عبدالقادرحشاني رابه رهبري برگزیدند . حشاني که بروز چهارشنبه ۲۲ ماه جنوري سال جاري عیسوي بوسیله نظامیان حاکم دستگیر گردید ازجمله افراد فعال نهضت اسلامي الجزایربوده که طي مدت کمي توانست اکثریت مردم الجزایر را درصفوف متحد تنظیم کند ولي دشمني هاي غرب ومزدوران شان بااسلام باعث گردیدکه حتي به آراي اکثریت مردم درجامعه ارزش نگذارند وازترس حاکمیت یك نظام اسلامي درالجزایر نه تنها انتخابات رابه عقب انداختند بلکه به اعلام حالت اضطراري، جلوگیري ازگردهم آیي هاي مردم وحتي به جلوگیر ازامامت امامان وایجاد موانع درجهت اشتراك نمازجمعه دست زدند ولي تاجائیکه تاریخ به مامي آموزد جلوحرکتهاي مردمي رابازورنمیتوان براي یك مدت طولاني سدنمود. بنابران بهترین راه براي آنهایي که دربرابر اراده وتصمیم وخواست وآرمان اکثریت دریك جامعه قرار مي گیرند این است که به اراده ملت ها احترام بگذارند وبه آنهاموقع بدهند تاسرنوشت خودرابدون مداخله دیگران تعین نمایند .

دافغان مجاهدینو بنسټ پالي دلي دملګرو ملتو طرحه نه مني

شمس الحق "شمس" :

دهري ورځي په تیرېدو سره دکابل دلاسپوځي رژیم حالت دتغیراوبدلون پړ وله و"دورځتي ژوندساحه یې دلامحاصري اوذلت حالت غوره کوي . دکابل دمزدوررژیم واکداران چي تل یې دخپلو بادارانو په خوښ ساتلو کي دبدبختي ژوند اختیارکړي اوله حقیقت او واقعیت ځخه یې سترګي پټي کړي اویه خپل لاس یې ګران هیوادپه کنډواله بدل کړ، دراتلونکي افغانستان په بیاودانولو او جوړولو کي دمسئولیت هیڅ ډول احساس نه کوي دخپلو هیلو دناکامېدو په رازېوهیدلي، نو ضرورده چي دافغانستان په هغه شان چي ددوي خیال اوفکرو جوړیدل به ورته ناممکن ښکاري او دمسئولیت احساس ورته هسي معمولي شانته خبره بریښي ، ځکه ددوي دشوم مقصدپه لحاظ دافغانستان ودانول اویاپرمختګ په غیراسلامي کمونستي نظام پښنګولو کي ضروري ګڼه اودابي دپرمختګ اوترقي وسیله ګڼله دافغانستان خلکوته یې کور، ډوډي ، کالي غوښتل، دفقراو وروسته پاتي عوامل یې بولځي داسلامي مقرراتواوقوانینو تطبیقول بلل، تل یې په خپلوغلطو فکرونو اوکمونیستي غیراسلامي قوانینو ټینګار کاوه . خو خیرالماکرین خداي (ج) دخپلو مومنو اوواقعي بندګانو هلي ځلي اوقرباني هسي بیځایه پرینښودي، اسلام وطن ، دین اوناموس دښمنان یې ورته رسوا اوشرمنده وګرځول اوپرخپلو کړو عملونو او کردارونو یې خجالت اوشرمنده کړل . کافرواوبیدینه کمونستانو ددي پرځای چي دافغانستان مظلوماوبیچاره خلکوته کورونه جوړکړي، په آرام یې وګرځوي،په خپلوه جونګره کي دخپل اولاد اوکورني سره دانسانیت ژوند اختیارکړي، برعکس عمل اجراکړ بلکې دکور جوړولو پرځاي یې کورونه ورته له یوه سره رنګ کړل، دشپي تیرولو ځاي یې وریاندي ورت کړ. دکوټي اویاخوني په ځاي یې دچادراویاخیمي لاندي ژوند تیرولو ته مجبورکړل چي بالاخره په هجرت کولو مجبور شول، پردیوګاونډیو ملکونو ته وروسته له شپوشپو مزل وهلوځخه مهاجرشول. ابادکورجوړولو اویاورکولو شعارهمداسي معني لري لکه زموږ مؤمن اومسلمان ملت چي نن ورځ ورسره لاس اوګریوان دي! دغه راز ددوي دکالیو ورکولو دشعاردتحقق موندلو په نتیجه کي زموږ دیونیم ملیونو ځخه دزیاتو شهیدانو وروڼو اغوستي کالي په سرو وینولړلي کفنونه وګرځیدل اویه چپیروخاوروکي په خپلو کالیوکي نغښتي خښ شول، داودکمونستانو، زموږملت ته دکالیوورکولو دشعاردحقیقي بڼي ښکاره کول، همدا راز دډوډي ورکولو په ځاي یې دخلکوځمکي په کنټرولو بدلي کړي، باغونه او نوري ډني یې ورته وسوځولي ، شنه فصلونه یې ورته تاله ترغه کړل، دخپلي دارایي په ویرني کنټرول ، په کراتو مراتو لیدل شوي چي زموږمومنو هیوادوالو به دیوکال دزحمت اوکړاونوایستلو په نتیجه کي خپله کرونده راټوله کړه اودخپل اولاد لپاره به یې دوډي جوړولو رنګارنګ زحمتونه ګاللي و، خوملحد واواسلام دښمنه عناصرویه دغه یوه ګوله مړي ډیوي مرمي اویا دبمونو په اورولوسره دانسانانوپه ځاي داورخوراك وګرځوله ، داوخلکوته دډوډي پیداکولو هلي ځلي چي په افغانستان کي دملحدواومزدورحکومتونو په واسطه سرته رسیدلي . دغوبیدبنه اویي ایمانه مزدورانو په ګران هیواد افغانستان کي ظاهرا دخلکو اونړیوالو دغولوني په خاطر کور، کالي، ډوډي له شعارڅخه ځه ډول ګټه پورته کوله اودعمل په ډګرکي ني ددې مسلمان او په خداي مین هیواد اوسیدونکوته څنګه کور، کالي اوډوډي ورکړل . په افغانستان کي سروښکیلاګرو دافغاني مزدوروانوکرصفته ډلو په واسطه غوښتل خپل شوم هدف ترلاسه کړي ولي دافغان مجاهدولس دسرتیرو اوزړوروواوسیدونکو دقهرمانانه جهادي کارنامویه اجراکولو سره دغه الحادي ځواك دنړي له نقشي څخه دتل لپاره ختم کړل اویه کابل کي یې لاسپوځي ایجنټان دمجاهدینو دمرګونو ګوزارونو په کولوسره دکلابندي سختي پرېشانه شپې ورځي تیروي . دهري دروازې دټکولو هڅه یې کړي، دمجاهدینو په مقابل کي یې درنګارنګ دسیسو اوتوطیو دپکاراچولوڅخه کاراخستي . مجاهدو تنظیمونو پسي یې ډول ډول پروپاګندوته کړي او غواړي مجاهدین په خپلو کي داختلاف اوبدمرغي پیداکولو په خاطر په ډلوسره وویشي اولدي اختلاف څخه دخپل ځان په ګټه کاروا خلي . دنړي کفري ځواکونو اودکابل ګوډاګي حکومت تل په هڅو جهادي تنظیمونو نیوکه کړي ، سربي ورځتي ټکولي چي ددوي ددسیسو اوتوطیو ښکارکیږي نه، ددوي له لاسه دماتي اوناپودیدوخوب وینې دجهادپه ادامي کي داسلامي انقلاب اواسلامي حکومت جوړیدل ممکن بولي اوبالاخره دښمنانود هڅوي نه سخت دوبري حالت غوره کړي دي، نوبې هرونګه تبلیغاتو ته بڼي وهلي اوټوله ملامتي پرمجاهدینو باندي اچوي .

دکابل دګوډاګي حکومت راډیو چي تل په مجاهدینو پسي دوښورو غږولو کاردخپل ځان له پاره ګټوریولي اولدي لاري دخلکو دغولوني په خاطر دیوځه پاته کیدو چانس په تصوري خوب کي وپني ، خوخپني وختونه دغلط فهمي په صورت کي داسي پروپاګند اوتبلیغات هم خپروي چي واقعا دمجاهدینوپه حقیقي بڼه باندي دخلکو دعقیدې مضبوط والي بویه خوچنده کیږي دمثال په توګه دکابل راډیو هغه بله شپه داتوبحو په خبرونوکي وایي چي دکابل حکومت دملګروملتوټولو طرحو اوپیشنهادونوته په تیره بیا چي

٦ مخ

داسلام سیاسي نظام

دابوالاعلی مودودي (رح) لیکنه — دفدامحمد "فایض" ژباړه

داسلام دسیاسي نظام اساس پردریو اصولونو اینبودل شوي دي . توحید، رسالت اوخلافت . پردي اصولو دښي پوهېدني پرته داسلامي سیاست په تفصیلي نظام پوهیدل ګران کاردي، ددي له پاره زه ترټولو وړومبي دادري اصلونه شرحه کوم .

دتوحید معناداده چي الله جل جلاله ددي نړي اودهغي دټولو اوسېدونکو خالق، پالونکي اومالك دي، حکومت او واکمني دهغه ده . هغه دحکم ورکولو اومنع کولو(امرونهي) حق لري اوبندګي اوطاعت پرته دبل چاله ګډون اوشرکت نه دهغه له پاره ده .

زموږ داهستي چي دهغي پواسطه موږموجودیو، زموږ دبدن داغړي اوځواکونه چي موږتري کاراخلو اوزموږ هغه اختیارات چي ددنیا پرموجوداتویي لرو اوپخپله داموجودات چي موږپري خپل اختیارات استعمالوو، په دي کي یوځیز هم نه موږ پیداکړي اونه دهغه په پیښه کي له الله جل جلاله سره څوك شریك دي. نوپردي اساس، دخپلي هستي مقصد اودخپلو ځواکونو مصرف اولګښت اودخپلو اختیاراتو دحدودوټاکنه نه زموږ خپل کاردي اونه کوم بل څوك په دي معامله کي دمداخلي حق لري، دایوازي دهغه الله جل جلاله کاردي چي موږیې له دې قوتونو اواختیاراتو سره پیدا کړي یو اوددنیا وپرځیزونه یې زموږپه واك کي واکړي دي. دتوحید دااصول انساني حاکمیت بالکل نفي کوي، یو انسان وي یاپوه کورني یاپوه طبقه اوله یابو درست قام اویا په مجموعي توګه دګردي نړي انسانان ، په هرحال دحاکمیت حق هیچاته هم نه رسیږي حاکم یوازي الله جل جلاله دي اودهغه حکم " قانون " دي .

